# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

انجنیر سید عبدالقادر

۳۰ می ۲۰۱۴

# تولټاکني که داستعماري اشغال پنځم پړاو

ــ لومړي برخه : دتولټاکنو لوبو ته یوه لنډه کتنه:

ــ دوهمه برخه : د امنیتي ترون دلاس لیک په اړوند دنوماندو بي له شرطه وعدي :

ــ دریمه برخه : داشغالي ځواکونو احتمالي ستنیدل :



دتاج بیک قصر د استعمار او جهادي غلو دجنایاتوپه پایله کي - دامریکایي استعمار ارتیا او تو لټاکني - په امریکایي اشغال کي هیروئینو اخته افغا ن ماشومان ــ

**دوهمه برخه ــ دامنیتي تړون د لاس لیک په اړوند دنوماندو بیله شرطه وعدي :**

ددوهمي برخي تر لیکلو تر مخه باید ووایو ، د تولټاکنولوبه داشغالي واکمنانو دارتیا له مخی ځکه شروع سوي ده ، چی دیوه اړخه نړیوالو ښخه خپل استعماري اشغال پټ کړی ، او دبل اړخه داسي وښیي چی افغانستان آزاد او دادي دموکراتیکي تولټاکني پکښي تر سره کیږی ۰ دتأسف ځاي دادي چی افغان( ملي ګوندونه ، مدنی تولني) او جمعی رسنیو دتولټاکنو دلوبي دورځي دښارونو او هم درایي اچونو دمرکزونو حقیقي انځوردخپلو شخصي کټو له کبله داینټرنیټ له لاري افغان ولس او نړیوالو ته ښکاره نه کړ ، چی درایي اچوني کوم محلات دخلګو دنه ورتګ له مخي خالي او کوم محلات دامنیتي ستونځوله کبله تړلي دی ۰ چی پر لاس پوځي حاکمیت یي تر ډیري فیصدي پوري دتقلب لاره بنده کړي واي ۰ یعني خالي صندقونه به دخلګو درایي اوارادي ښخه لیري نه ډکیدلای ، چی ددوي دا کړنه به ولس هیڅ وخت ونه بخښي ۰ دیادولو وړ خبره داده چی دمصر تولټاکني چی دمی دمیاشتي د ۲۶ ــ ۲۷ پوري اعلان سوي وي ، د یوي بلي بله ورځي دپاره ځکه وغځیدلي چی دخلګو درایو اچوني کچه ډیره لږ وه ۰ چی په دي افشاګریو کي جمعي رسنیوداینټرنیټ له لاري ونړیوالو ته درایي اچوني دمحلاتو انځورونه ښکاره کړل چی ډیر یي خالي وه ۰ چی ددوي دا کړنه په ریښتینه توګه دستاینې وړ د ۰۰ ځکه دمصر دتولټاکنو کمیسون درسنیو په دي کړنه باندي نه سي کولاي دافغانستان دتولټاکنو په څیر د رایه اچوني د خالي محلاتو ښخه بیا هم ډک صندقونه ومرکز ته ولیږي اوپه رایه اچونه کی دخلګوشمیر ډیر وښیي او مشروعیت تر لاسه کړی ۰ دافغانستان دتولټاکنو د لوبي

په تبليغاتي کمپاين کي داسي دملي ګټو ضد هلي ځلي کيدلي او کيږي ، چې دهغو څخه دافغان ولس دقومونو په منځ کي دبي اتفاقي او دوطن دتجزيي بوي پورته کيدي ۰ دقوم پلوي او فيدرالي کيدو پرلورباندي دافغا ن ولس ورتمبول دافغان ولس دارادې انعکاس نه بلکه په نيژدي راتلونکي کي دملي محکمي څخه دجهادي بشري او اقتصادي جنايتکارانودتيينتي انعکاس په ګوته کوي ۰ په دې تبليغاتي کمپاين کي ځينو نوماندو کوښښ کاوه چې په مصنوعي ډول په يوه او بل قوم پوري ځا ن وتړي ، څو دهغوي پلوي تر لاسه کړي ۰ که داسي تلاښونه ځيني کسان په اګاهانه ډول مخ ته بيايي او غواړي ددې لاري څخه ديو قوم پلوي دځان کړي ، دابه يو لويه سياسي او ملي تيروتنه وي ۰ حتا په ځينو وختونو کي کيدلايسی که دداسي اشخاصودهڅو مخه ،دځان او ګروپ له پاره دحاکميت او ثروت لاس ته راوړل وي ، په دې حالت کي کيدلايسي ، چې داسي کسان په ملي خيانت متهم کړل سي۰ دا ځکه چې ددوي دا ډول هڅي دملي ګټو په زيان باندي تماتيږي ۰ ځيني کسان غواړی دقوم او سيمي څخه ديوه سياسي تجارت په توګه استفاده وکړي ، اودقومونو په منځ کي دبي اتفاقي او دښمني اورونه بل کړي ۰په داسي حال کي چې دغرب څخه وارد سوي تيکنوکراتانو او کورني جنګ سالارانو دتيرو دريالسو کلونو په حاکميت کي ددوي نا روا هڅواو دملي شتمنيو لوټول ، ټولو افغانانو ته ښه درس ورکړي دي ۰ ځکه نو ملي ګټو ته ژمن افغانان په دې نظر دي چې افغان ولس د دوه ډوله اشغال سره مخامخ دي ۰ يو دامريکا تر رهبري لاندي دغربي نړي استعماري ، او بل دکوردننه د تيکنوکراتي او جهادي ( بشري او اقتصادي ) جنايتکارانو داشغال سره لاس او ګريوان دي ۰ چې دواړه اشغال ګردافغان ولس په وړاندي دملي شتمنيو دلوټولو په مخه يو موټي دي ۰ لازمه ده چې افغان ولس په ځانګړي توګه ، سياسي ګوندونه ، اجتماعي سازمانونه او مستقل سياسي کارپوهان خپل ترمنځ دملي ګټو په نظر کي نيولو سره ديوه سيمينار او ګډوجلسو له لاري پرداسي يوه اجندا باندي خبري وکړي ، چې هغه نه يوازي دسياسي حل دلاري څخه وبهرني اشغال ته دپاي ټکي کښيږدي ، بلکه دکورني جنايتکارو ډلو او افرادو څخه هم ولس نجات پيدا کړي ، کوم چې ولس يی يرغمل کړي دي ۰افغان ولس داسي يوه واکمن او لاربښود ته اړتيا لري چې دولس داکثريت ارادې او رايې په پايله کي راميدان ته سي ، چې دافغانستان ټولو قومونو ته په يوه سترګه وګوري ۰ افغان ملي ګټو ته د داسی واکمن رينښتينه ژمنتيا به دولس په منځ کي دهغه دمحبوبيت دکچې سره مستقيم تناسب ولري۰ بايد ووايو چې دافغانستان او منطقي په دې حساسو سياسي شيبو کي چې د اشغالي ځواکونو احتمالي شاته تګ کنګوسي په غوږو کيږي ، لازمه ده چې افغان ملي ګټو ته ژمن ( سياسي ګوندونه ، مستقل سياسي کار پوهان او روشنفکران ) دافغان ولس سره لاس يو کړي ، او پرينږدي چې تر اشغال وروسته افغانان خپل تر منځ دعراق او ليبيا په څير په قومي او مذهبي شخړو باندي اخته سي ، اوکه نه کورني شخړي به داشغالګرو واکمنانوله پاره ښه لاس ته راوړنه وي۰

دليکنی ددوهمی برخی په اړوند لومړی بايد ووايو ، چې په دې لوبه کي ولي دونه ډيرو کسانو ځانونه نوماند کړل ؟ هغه دا چې ديوه طرفه بهرنيانو غوښتل چې دافغان اوغربي نړي دولسونودتيروتلو له پاره ددوي په زريعه دا لوبه ګرمه وساتي ، او دبله طرفه دنوماندو ځيني کسا نو هم داسي فکر کاوه او هڅه يي کوله چې د پيسو اوتقلب له لاري په ولس کي دخپلي پلوي کچه و بهرنيانوته لوړه وښيي ، او وخنګ ته يي بيا دا نوماندانو د ولس دشرم او بيري پرته دامريکا سره بي له کومه شرطه دامنيتي ( وطن پلورني ) تړون دلاس ليک کولو ناري هم وهلي ۰ څووکړايسي بهرني استخبارات يي لاس نيوي وکړي ، او پرافغان يرغمل ولس باندي يي حاکم کړي ۰دامنيتي تړون دمحتوا څخه داسي معلوميږي چې دافغانستان دهوا او ځمکي تر پلورني تر څنګ اشغالګرو ته بايد دافغان وژني واک او قضايي خونديتوب هم ورکړل سي ۰ دقضايي مصؤنيت په هکله په لنډه توګه بايد ووايو: څه رنګه چې افغا نستان يواسلامي هيواد دي اود ولس نيژدي ۹۸ فيصده يي داسلا م په مبارک دين باندي مشرف دي ، او په دې باندي

عقيده لري ، چې پاک خداي ( ج) ديوه بنده دحق څخه بل بنده ته نه تيريږي يعني دا( حق العبد ) دي٠ دا په دې معنې چې که يو انسان دبل انسان په زريعه په قتل رسيږي دا حق يوازي دهغي کورني دي ، چې مقتول پوري اړه پيدا کوي چې هغوي دا قاتل بخښي ،او که داسلامي شريعت سره سم جزا ورکوي ٠ځکه نو په افغانستان کي هيڅ داسي يو ارګان او لوړ پوړي حاکميت شتون نه سي پيدا کولاي ، چې د يو ه خارجي هيواد پوځ ته دقضايي مصؤنيت حق ورکړي ٠ حتا که په افغانستان کي مشروع قانوني حاکميت هم شتون ولري ، دقضايي خونديتوب حق وبهرني پوځيانو ته نه سي ورکولاي ، چې بهرني پوځيان دبشري اواقتصادي جناياتو په کولو سره بياهم خوندي وګرځي ٠ او يا دتيرو کلونو په څير ځيني بهرني جنايتکاران د رواني مريضي او ځيني بيا په خپلو هيوادونو کي دمحکمي تر نامه لاندي دافغانستان څخه و ايستل سي ٠ ځکه نو ددې تړون امضآ کوونکي به دملي خاينينونو په نامه ياد سي ٠دبله طرفه وسله وال مقاومت هم دا تړون غير قانوني او نا مشروع بللي دي ٠دامنيتي تړون په لاس ليک کولو سره به د بې امنيو لمن پراخه ، افغان به يې دافغان سره په جنګ اچولې او دمنطقي هيوادونو ته به يې ښه پلمه په لاس ورکړي وي ٠ځکه نو افغان ملی ګټو ته ژمن افغانان بايد ژرتر ژره د يوه سياسي حل په لټه کي سی ٠ دلته به د بې ګناه افغانا نو د وژني او دبهرنيانو دقضايي خونديتوب په هکله يوه بيلګه رانقل کړو ، چې اشغالګر هيوادونه څنګه خپلو جناياتو او افغان وژني ته قانوني او مشروع بڼه ورکوي ٠ دآلمان دبن په ښارکي د ١٢ ــ ١٢ ــ ٢٠١٣ نيټه باندي دهغو ٧٩ کورنيوو دجملي څخه د دوو کورنيو په غوښتنه چې يوه ښځه چې شپږ اولاده او يو بل سړي چې دوه زامن يې دلاسه ورکړي وه ،د ناټو دهغه هوايي بمبارد له کبله چې الماني پوځ تر سره کړي وو، محکمه جوړه سوله ٠ ددې دوو کورنيو دجملي څخه نوموړي ښځي د پيځوس زرو ايرو او بل سړي دڅلوپښت زرو ايرو غوښتنه کړي وه ، چې بايد دآلمان دولت يې دوي ته ورکړي ٠ ددوي دغوښتني په مقابل کي محکمي پريکړه وکړه چې دآلمان پوځ دخپل دغه ماموريت په چارچوب کي تر حد ډير تيري نه دي کړي ٠په داسي حال کي چې دسپتمبرپه څلرمه د٢٠٠٩ کال دکندوز ښارته نيژدې دالمان دپوځ په دغه هوايي بمبارد کي ٧٩ کورنيو خپل اولادونه او غړي چې په مجموع کي ( ١٤٠ ) تنو ته رسيدل له لاسه ورکړل ٠ دمحکمي پريکړي ودوي ته داسي وويل سول :چې دبمبارد امر هغه وخت ورکول سوو چې ودوي ته د دوي داطلاع رسوونکي له خوا اوه ځلي وويل سول ، چې په دې ساحه کي ملکي کسان شتون نه لري ٠ د آلمانيانو دتيلوپردغه ټانکر چې دطالبانو له لوري تښتول سوي وو ، طالبانو عامو خلګو ته پري اېښي وو چې تيل ځيني واخلي ، چې ١٤٠ ملکي وګړي پر راټول سوي وه چې نا ببره دناټو آلماني آلوتکي دتيلو پر ټانکر او شاوخواه ټولو ماشومانو او ښځوباندي بمبارد وکړ او په شهادت يې ورسول ٠ په داسي حال کي چې دوي دخپل عصري تخنيک څخه هر وخت څرګندوني کوي چې موږ په څو زره کيلو متري کي هدف معلومه ولايسو ، مګر ١٤٠ ملکي وګړي بيا دوي نه سي معلومولاي چې دا بې وسلي وګړي او ماشومان دي اوکه دطالبا نو وسله وال ګروپ دي ٠ ښکاره خبره داده چې اشغالي ځواکونوپه تيرو ١٣ کلونو کي دجناياتو په کولو سره دهغه تړون څخه استفاده کړي ده ، کوم چې په د ٢٠٠١ کال کي د ائيساف دځواکونو اود افغانستان دوخت دکورنيو چارو دوزير محمد يونس قانوني تر منځ لاس ليک سوي اود بهرنيو چارو دوزير له خوا هم تا ئيد سوي دي ٠ دحيرانتيا خبره لا داده چې نومالدانو په خپلو مصاحبو کي ويلي دي ، که ارګ ته ننوزي دکرزي صاحب دتجربو او مشورو څخه به ګټه اخلي ٠ کومي تجربې ؟ کومي مشوري ؟ دکرزی په حاکميت کي به دا لاندی څو بيلګی ستاسودحاکميت د چلولو او بقا له پاره ښې تجربي وي ، چې دده دکړونو لړي ته ادامه ورکړي ؟
ــ دکرزي په حاکميت کي افغانستان دمخدره ټوکو دکښت او اداري فسادله کبله دنړي په کچه لومړي مقام ګټلي چې ګټه يې بهرنيو اوکورنيو مافيايي ډلو لاس ته ورغلي او په پايله کي يې ديرغمل ولس (٦ ، ١ ميليونه ماشومان ، ښځي ځوانان او زاړه) په هيروئينو باندي اخته سوي دي ، چې لوړ انځور يې يوه کوچني ښکاره بيلګه ده ٠دحاکميت

دلوړ پوړو اقتصادي جنایتکارانو او هم ددوي سره په اړوند کي جنګ سالارانو د ملت نیژدي ددرو میلیونو هکتارو مځکو غصبول ، دبیکاري دکچي دلوړ والي له کبله و ګاونډي هیوادونو ته دلس هاوو زرو ځوانونو مهاجرت ، او په ایران کي په یوه او بله بهانه د سلګونو افغاني مهاجرینود شرعي اوبشري قوانینو څخه په ښکاره سرلغړونه اعدامول ، تیکنوکراتي ، جهادي اویو شمیر نورکسان چی دولس له خوا په اقتصادي جرمونو او فساد باندي متهم دی دملي تجارانو تر نامه لاندي میدان ته راوتل اودحاکمیت له خوا څخه دوي ته دافغانستان داقتصاد څرخ په لاس ورکول او ددوي په زریعه دملي شتمنیو چورول ، دکابل په ښار کي دپټو کلیساوو جوړیدل او ددی لاري څخه داسلام دمقدس دین څخه وعیسویت ته تبلیغ او دیو شمیر افغانانو اړول ، دمملکت په کچه دبدلمنیو ( فحشا ) ډیریدل ۰ او هم دا رنګه دلاس انجلس ټایمز ورځپاڼي نیژدې دوي اوني مخکي هم داسي لیکلي وه ، چی کرزي ترخپل حاکمیت وروسته په فساد ککړ حکومت او پر نړیوالو باندي تکیه اقتصاد وشاته پریږدي ۰آیا دا ټوله به دکرزي دواکمني ښي تجربي او مشوري وي چی راتلوونکي واکمن باید ګټه ځني پورته کړي ؟ نوربیا

تمت باالخیر

۲۹ ـ ۵ ـ ۲۰۱۴